# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد     بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم     از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com     afgazad@gmail.com

| اجتماعی | Political |
| --- | --- |


## خـــبـــرتـــيـــا – اعـــلان

درنولوستونکو او ګرانو هیواد والو!

د حــق دلارې د کلتوري مرکز اود افغان ستراتیژیکي څېړنو علمي شورا ویاړ لري تاسې ته خبر درکړي چې ډېر ژر به انشاء الله د افغاني او اسلامي نومونو ډیکشنري په پنځو ژبو بشپــړه او تاسې ته د ( دافغاني او اسلامي نومونو قاموس) تر نامه لاندې وړاندې کړای شي. مونږ په دې برخه کې هڅه کړې چې دا کتاب شخصي او رسمي مراجعو ته د يو مبداء او مرجع په توګه مرسته ، ممد او توحيد شوی مجموعه وړاندی شي.
مونږ دخپل توان په اندازه هڅه کړې چې په دې کتاب، مجموعه او قاموس کې ټولو هغه افغاني او اسلامي نومونو شامل کړو کوم چې په افغانستان او سيمه کې پکارول کيږي.
مونږه هڅه کړی او هڅه کوو چې په دې مجموعه کې د ټولو خپرو شوو آثارو څخه ګټه واخلو. په نظر کې لرو په دې هکله د هغه ليکوالانو او کارپوهانو سره اړيکې او مشورې ولرو چې په دې لار کې يې ترمخه ګامونه اخيستي دي. په ډيری خوښۍ خبر درکوو چې د بعضې دوستانو او کارپوهانو مرسته په دې اړه مونږ ته را ورسيده او ګټه موځيني اخستي د ه.
مطمينا ددی ريسرچ د افغانستان شمول او سيمه شمول کولو لپاره حتی مستقلو ريسرچو ته د پشه ای، ازبکی، ترکمنی، هندی(اردو) او .... نومونو د توحيدی مجموعی جوړلو لپاره اړتيا شته. مونږ په دی باور يو چه د هراړخيز اقتصادی او سياسی پلانونو د عملی کولو لپاره په يوه ټولنه کې د احصائيو او نفوس شميرنی لپاره کلکه اړتيا شته. مونږ دا ريسرچ د نورو اړتياو سره سر ه ددغه اقتصادی او سياسی پلانونو او تدابيرو د عملی کولو لپاره هم ممد او مقدماتی کار بولو.
موږ په دې ډول تاسې نه په ډېره درناوي هيله کوو چې لطفا مونږ خپلی نيکی او رغنده مشوری راوليږی..
همدارنګه هيله کوو د هغو کار پوهانو پته او ارتباطي تيفلون او بريښنا ليک مونږ ته راوليږئ چې په دې برخه کې تحقيقات لري. لطفا هغه کتابونه او نشرات چې په دې برخه کې خپاره شوي مونږ ته يې د لاسته راوړلو پته راوليږئ تر څو وکولای شو د ليا دقت او وسعت لپاره ورځيني ګټه واخلو او يوه جامع او هر اړخيزه مجموعه تاسي ته وړاندې کړو.
مننه


د حــق دلارې د کلتوري مرکز اود افغان ستراتيژيکي څيړنو دمرکز علمي شورا
په نمايندګی: دوکتور صلاح الدين سعيدي سعيدافغاني
بريښناليکونه: Email: drsalahuddinsayedi@yahoo.com ,
strategicstudies@yahoo.com